# مطبـــوعـــاتی اعـــلامیـــه

۲۷ جون ۲۰۱۱ میلادی

## د لوږې سره د مخامخ افغانانو لپاره د WFP خوراکي مرستې د بودیجې د کمښت له کبله زیانمنې شوې

**کـــابل** – نړیوال خوراکي پروګرام (**WFP**) د میلیونو افغانانو سره د خوړو مرستې کموی او خپلې پاتې مالي سرچینې د دې لپاره ځانګړې کوي ترڅو د هغو سیمو خلکو سره مرسته وکړي چې د خوړو له پلوه په لوړه کچه ناامنه او خورا بیوزله دی.

په افغانستان کې د **WFP** د نماینده مرستیال ښاغلي برادلی ګورنت (**Bradley Guerrant**) وویل "مونږ غواړو هغو کسانو ته چې په افغانستان کې د **WFP** د خوراکي مرستو څخه ګټه اخلي، دا ډاډ ورکړو چې مونږ خورا زیار باسو تر څو هغه مالی بودیجه چې ورته اړتیا ده لاسته راوړو او پدې سره وکولای شو چې ژرترژره خپلې مرستې بیا پیل کړو."

په ښوونځیو کې د خوړو ورکول، خواړه د مسلکی روزنې په بدل کې او خواړه د کار په بدل کې ځینې هغه پروګرامونه دي چې **WFP** د روانې جون میاشتې د پیل راهیسې، د افغانستان په نیمایی ولایتونو کې په ټپه درولې دي. **WFP** هیله لري چې د بودیجې په لاسته راوړلو سره به په آینده کې دغه مرستندویه چارې بیرته له سره پیل کړي.

**WFP** چې په بشپړه توګه په خپلو مرستندویه چارو کې په رضاکارانه بسپنو تکیه کوي، په پام کې درلودله چې په ۲۰۱۱ میلادی کال کې د ۷ میلیونو څخه زیات افغانان تغذیه کړي، خو اوس د مالي بودیجې د کمښت له امله یوازې **۳.۸ میلیونه** خلکو ته د سږکال په اوږدو کې خپلې خوراکي مرستې رسوي.

سره لدې چې ډیر شمیر دولتونو په افغانستان کې د **WFP** څو کلن خوراکي مرستندویه عملیاتو سره سخاوتمندانه مرسته کړې، خو **WFP** ۲۲۰ میلیونه ډالرو ته اړتیا لري ترڅو خپلې چارې په هغه کچه چې په پیل کې پلان شوې وې ترسره کړي.

د هغو اوږدمهاله پروګرامونو کمول به چې موخه یې د خوارکي مصئونیت پیاوړی کول دي، **WFP** سره مرسته وکړي ترڅو خپلې محدودې مالی سرچینې د ژوند د ژغورنې خوراکي مرستو لپاره وکاروی او هغو خلکو سره مرسته وکړي چې ورته ترټولو زیاته اړتیا لري او زیانمنونکي وي - په ځانګړې توګه ښځې او ماشومان.

**WFP** به ډیره هڅه وکړي ترڅو هغه کسانو سره چې د جګړو او طبیعی ناورینونو له کبله زیانمن شوی وی خپلو مرستو ته دوام ورکړي. **WFP** به میندو او د پنځو کلونو څخه کوچنیو ماشومانو ته د ځانګړیو خوړو ورکولو او د توبرکلوز ناروغانو او د هغوی کورنیو سره خپلو خوراکي مرستو ته دوام ورکړي.

WFP
wfp.org



ښاغلي ګورنت وويل "مونږ ځينو خورا سختو پړيکړو ترسره کولو ته اړ شوو تر څو وکولای شو د بوديجې د کمښت له کبله خپلې مرستندويه چارې له سره تنظيم کړو. **WFP** د بشرى مرستو د يو خالص سازمان په توګه د اړتيا پر بنسټ او د بشرى اساساتو په پام کې نيولو سره خپله تګلاره برابروى ترڅو هغه خلکو ته مرستې ورسوي چې ترټولو ډيره اړتيا ورته لري."

**WFP** خپلې خوراکي مرستې د ۲۰۰۷ – ۲۰۰۸ د ملى خطراتو او زيانمننې د ورو‌ستۍ او جامع ارزونې پر اساس نتظيموي.

**WFP** په افغانستان کې د خپلو شريکانو، دونرانو او نړيوالې ټولنې سره کار کوي چې په بوديجه کې دغه سخت کمښت ښکاره کړي او د هغې د لاسته راوړلو لپاره کړندۍ هڅې وکړي ترڅو هغو کسانو سره چې د بيوزلۍ، جګړو او طبيعى ناورينونو له امله زيانمن شوي وي مرسته وکړي.

# # #

**WFP** د نړۍ په کچه تر ټولو لوى بشرى سازمان دى چې د لوږې پرضد مبارزه کوي. په ۲۰۱۰ کال کې **WFP** په ۷۳ هيوادونو کې د ۹۰ ميليونو څخه زيات وکړي تغذيه کړل.

**WFP** اوس د **RSS** د خدمت په وړاندې کولو سره ژورناليستان د وروستيو مطبوعاتي اعلاميو، ويډيوګانو او انځورونو په اړه لکه څنګه چې په **WFP.org** کې خپريږي خبر ساتي. د لا زياتو معلوماتو لپاره **http://www.wfp.org/rss** وګورى.

**WFP** په ايټاليا کې د **ISDN** يو ځانګړې ليکه د **WFP** د مامورينو سره د دوه اړخيزو مرکو لپاره لري.

**د لازياتو معلوماتو لپاره:**

**چاليس مکدونا،** WFP **کابل، موبايل** 116 662 797(0)93+ ، **ايميل:** Challiss.McDonough@wfp.org
**اسدالله ازهرى،** WFP **کابل، موبايل** 190 662 797(0)93+ ، **ايميل:** Assadullah.Azhari@wfp.org